# د باچا خان خط
# د قاضي عطا الله خان په نوم

اداره

سابرمتي سنټرل جېل احمد اباد
01.5.1935

خوږه وروره خوشحاله اوسې

السلام علېکم ورحمة الله و برکاته،

تهٔ به خبر شوے ئې چې په هزاري باغ جېل کښې ما خطونه لیکل بند کړي وو. په دې وجه مې تا سره خط و کتابت جاري ونهٔ ساتلے شو. څهٔ وخت چې زهٔ د هغه ځایه رها شوم نو هغه وخت زما زړهٔ غوښتل چې تاته خط ولیکم. لېکن ستا پته رانه هېره شوې وه. څهٔ وخت چې علیګړ ته لاړم نو ستا ورور سره مې ملاقات وشو. د هغهٔ نه مې ستا پته معلومه کړه چې د یو پې د دورې نه واپس واردا ته لاړم نو فوراً گرفتار شوم. په دې وجه مې بیا تاته خط ونهٔ لیکلے شو. مهرتاجه چې څهٔ وخت د ولایت نه واپس راغله نو هغه وخت زما دا خیال ؤ چې تاته یو خط ولیکم چې ستاسو د کور جینکۍ کهٔ چرې مناسب ګڼې نو مهرتاجې سره دې یو ځائے تعلیم حاصل کړي. لېکن معلومه نهٔ وه چې تا به زما دې رائې سره اتفاق کړے ؤ او کهٔ نه؟

زما خیال ورځ په ورځ د جینکو تعلیم او تربیت طرف ته زیاتېږي. ولې چې زهٔ دا خبره د خپل قوم دپاره خطرناکه ګڼم چې هلکانو له خو دې تعلیم ورکړے شي او جینکۍ دې د علم نه محرومه پاتې شي. د دې نتیجه به دا وي چې زمونږ هلکان خو به اول جاهلانو ښځو سره ودونه نهٔ کوي او کهٔ چرې وهٔ هم کړي نو اکثر به ئې کور سمون نهٔ خوري او همېشه به پکښې کشمکش وي. چې د دې نه زمونږ ملک او قوم ته د یو لوي نقصان د رسېدو اندېښه ده.

د دې دپاره ما غوښتل چې ستاسو د کور جینکۍ هم مهرتاجې سره دې تعلیمي خدمت دپاره تیارې کړم او کار زمونږ د امیرانو خلقو په لړې توجه سره کېدے شي. د زیاتې لیکلو ضرورت نهٔ ګڼم. ولې چې تهٔ پوه ئې. صرف دومره عرض کوم چې زما په دې تجویز غور وکړه او د دې متعلق راته خپله رائې ولیکه. بله خبره زما دا هم ده چې زمونږ په قوم کښې دا یوه ډېره د نقص خبره ده چې هغوي جینکۍ په وړوکوالي ورکوي او جینکو له دا موقعه نهٔ ورکوي چې هغوي په خپله خوښه وادهٔ وکړي او یا کهٔ نهٔ غواړي نو نهٔ دې کوي. د دې متعلق زما دا رائې ده چې دا رسم هم پرېښودل پکار دي او کهٔ چرې ټول خلق ئې پرېښودو ته تیار نهٔ وي نو کم از کم تعلیم یافته خلقو له ئې پرېښودل پکار دي او هغو له پکار دي چې د ټولو نه اول خپلو بچو له تعلیم ورکړي او د هغوي د اخلاقي تعلیم او تربیت خاص خیال وساتي او څهٔ وخت چې هغوي د سبق نه فارغه شي نو د هغوي د مرضۍ مطابق د هغوي په معاملاتو کښې هغوي سره د هر قسم امداد وکړي. زما په زړهٔ کښې نورې هم ډېرې خبرې دي لېکن في الحال زیاتې لیکل مناسب نهٔ ګڼم هسې نه چې در باندې بوج شي-

امېد دے چې تاسو ټول به په خېریت سره یئ. د کور ټولو لویو وړو ته مې سلام او مینه. ټولو دوستانو ته مې سلام. زما طبیعت د آب و هوا او

تنهایی په وجه اکثر ښۀ نۀ وي. دعا کوئ او دعا به کوم.

## ستا عبدالغفار